AFGHAN GERMAN ONLINE
http://www.afghan-german.com
http://www.afghan-german.de

افغان جرمن آنلاین

افغانی تولنی – هالیند ۲۰۱۲/۱۰/۰۸

# د کابل د ښوونې او روزنې پوهنتون د نوم د بدلولو په اړه

## په نیدرلند کې د افغاني کلتوري ټولنې غبرګون

افغانستان یو کثیرالملته هیواد دی، چې ګڼشمېر واړه او لوی ټبرونه پکې اوسېږي او د بېلابېلو دینونو او مذهبونو پلویان دي. پرته له دغو فکتورونو د افغان ولس په ټولنیز ژوند کې ژبنیز، سیاسي او صلیقوي توپیرونه هم موجود دي، چې له بده مرغه په یو جنګ ځپلي هېواد لکه افغانستان کې، د ټولنې د دغو فکتورونو د نا انډولتیا په ترڅ کې ټولنیز تاوترېخوالي ته زمینه برابرېږي او د هېواد دښمن دا ډول ټولنه په ژبنیز، قومي او مذهبي نفاقونو کې ښکېلوي.




په افغانستان کې د څو لسیزو په بهیر کې د جګړې برېبوکې فعاله ده، چې دغه بدمرغه هیوادد ځبرځواکونو په ژرنده کې مېچن شوی دی، د ټبرونو، سیاسي او مافیایي زورآزموینو په لړۍ کې ښکېل شوی دی او د نړیوالو ځبرځواکونو او ګاونډیو ملکونو د لاسوهنو په ترڅ کې د ټولنیزو ناخوالو مسؤلیتونه د افغانستان په بېلابېلو ټبرونو وتپل شول، چې له دغه نا منسوبه تاوتریخوالي نه یو شمېر سیاسي کړیو، مافیایي جوړښتونو او ډلو ټپلو د خپلو نامشروع موخو لپارو په سپینسترګي سره ګټه پورته کړې او کوي یې، چې نن سبا یې هم هېواد د بېلابېلو بدمرغیو کندې ته ورټېل وهلی دی.
څه موده مخکې د افغانستان د وزیرانو په شورا کې د کابل د ښوونې او روزنې پوهنتون د نوم بدلولو په ټولنه کې د نفاق اور بل کړی دی، خلک یې راپارولي دي، چې نن سبا یې ګڼشمېر پوهنپال قرباني شوي او کېږي. د افغانستان بې مسؤلیته اداره په شعوري توګه په ټولنه کې داسې ناخوالې رامنځ ته کوي، چې افغاني ټولنه په ټبریز، ژبنیز، فرقوي او مذهبي ترینګړتیا کې ښکېل کړي او د خپل واک بقا د خلکو په وینه کې وینې.
د افغانستان لاسپوڅې اداره د خپلو دغو غیر عادلانه او مضرو کړنو څخه عبرت نه اخلي. څو کاله مخکې د مزار شریف د پوهنتون لانجه د همدغه بې کفایته ادارې د غیر انساني او افغان ضد یوه دسیسه وه، چې د پوهنپالو تر منځ یې هغه مهال تاوتریخوالی رامنځ ته کړ. سربېره پر دې په افغانستان کې د یوې اونۍ نومونه د «هفته شهید» په نامه چې په افغانانانو کې یې ډېر نامطلوبه پایلې درلودې او لري به یې، چې څه موده مخکې د شهید د اونۍ په بهیر کې د برچي په دښته، ماتاوقلا او پلې سوخته کې د نظار د شورا یو شمېر پنجشېریانو او د هزره ګانو  تر منځ تاوتریخوالی رامنځ ته شو، چې عاقبت یې د څو انسانانو وژل ول او د هزاره او تاجک د سر خوړل.
په افغانستان کې د څو لسیزو په بهېر کې بېلابېلې واکمنۍ تېرې شوې دي، چې د دوی د ناحقه او تېل شوې جګړې په ترڅ کې په لکهاو انسانان ووژل شول او شهېدان شوي دي، چې له بده مرغه د شهېدانو نومونه، مړي او هدیرې هم ورک شوي دي. حتی د خلکو ټولې کورنۍ او د ژوندون سیمې تباه شوې دي او د لیلا د دښتې د شهېدانو اروا لیا کراره نه ده، د افغان ولس له پرهارونو لیا هم وینې څڅېږي، چې د امریکایي یرغل په ترڅ کې د ځوانو طالبانو تر څنګ په لکهاوو ملکي خلک هم په نامردي سره ووژل شول، مګر لاسپوڅې اداره لیا تېره چاړه په لاس درېدلې ده او د وګړو وینه تویوي.
نننۍ د امریکا په مټو سپره افغاني ضد اداره او د روسانو د یرغل په موده کې د هغه مهال لاسپوڅې سوسیالیستي ادارې د افغان ولس لپاره د بهرنیو او ځبرځواکونو لاسناستې ادارې وې او دي، چې په افغاني ټولنه کې یې ولسي مشروعیت نه درلود او نه به یې لري، ځکه نن هم لکه پرون پر زور په افغان ولس د لږ تر لږه څلوېښتو ملکونو د نظامي ځواکونو په مټ حکومت کوي، ځکه نو د لاسپوڅې دولت پرېکړې د ملت لپاره د منلو وړ نه دي او د افغان ولس ټولنیز تاریخ به خپلې ویاړلې پاڼې له سره د خپلې افغاني وینې او مینې په زرینو کرښو لیکي.
په افغانستان کې وروسته د سرې غمېزې له پېښېدو سره د سیمو د نومونو سلسله هم پیل شوې ده، چې د ثور له غوبل سره سم شاهي ارګ ته د «خانه خلق» نوم ورکړل شو، خو په افغاني ټولنه کې و نه منل شو او خلکو ورته هېڅ کله هم د «خلکو کور» ونه ویلو، نو ارګ ته هم بیرته خپل تاریخي نوم وروګرځېد. په کابل او نورو سیمو کې


افغان جرمن آنلاین تاسو په درنـښت همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادښت: دلیکنې د لیکنیزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په ځیر و لولـئ

ګنشمېر ځایونه هر چا د خپلو پلویانو په نامه یاد کړل، مګر بیا هم د خلکو غبرګون یو ملي دریځ وو، چې دغه مصنوعي نومونې یې و نه منلې، چې لرغونتوب او افغانتوب ته یې د مریتوب په پرتله ترجیح ورکړه.
په افغانستان کې د مصنوعي نومونو سلسه اوږده ده. په کابل کې د غازي لېسه د «شېر شاه سوري» په نامه، د نادریې لېسه د «عمر شهېد» او ګنشمېر نورې سېمې او یا ځایونه په مصنوعي بڼه په یو او بل نامه ونومول شول، چې د جلال آباد ښار هم یوه لنډه موده د «ترون ښار» په نامه یاد شو، مګر د وخت په تېرېدو سره ټولو ځایونو، سیمو او موسسؤ خپل اصلي نوم بیرته وګاټه، نو ښه ویل شوي، چې کوږ بار تر مزله نه رسېږي!
له بده مرغه نن سبا په افغانستان کې ډېر خلک په ناحقه وژل شوي دي. هر څوک یا ښه وویل شي هره ډله او یا لاسپوڅې اداره خپلو مړیو ته د شهېد لقب ورکوي او د خپل مړي د تاریخي درنښت لپاره له احساساتو نه کار اخلي، چې د افغانستان نننۍ اداره هم د ډلو په دغو احساساتو ملنډې وهي او د خپلو شومو اهدافو لپاره د خلکو له احساساتو نه ناوړه ګټه پورته کوي، چې دغه دریځ په ټولنه کې د تاوتریخوالي سبب ګرځي او په راتلونکي کې د شرو فساد د دورې د تکرارېدلو امکانات رامنځ ته کوي.
د کابل د ښوونې او روزنې د پوهنتون د نوم د ژغورلو لپاره افغان پوهنپالو یو ملي دریځ خپل کړی دی او د خپلو ملي موخو لپاره یې د څو اونیو په ترڅ کې په سوله ییزو لاریونونو لاس پورې کړی دی، چې د خپلو مشروع او ملي غوښتنو په ترڅ کې یې د هېواد له ولسمشر او د تش په نامه د سولې د شورا له مشر سره کتلي هم دي، خو له بده مرغه چې د کابل د ښوونې او روزنې د پوهنتون د محصلینو غوښتنو ته هرکلی نه دی ویل شوی او پوهنپال دې ته اړ شوي، چې د خپلې ملي موخې او غوښتنې لپاره عملي ګامونه پورته کړې، چې د خپل پوهنتون ملي او ټولمنلی نوم وژغوري، خو له بده مرغه یو شمېر محصلین د پولیسو د ګولیو او تاوتریخوالي قرباني شوي دي، چې حتی یو شمېر معیوب محصلین هم د پولیسو لخوا وهل شوي او جیلونو ته اچول شوي دي.
نننۍ نامشروع ادارې هڅه کړې چې د محصلینو تر منځ درځ واچوي او د قومي نفاق په جهنم کې یې ښکېل کړي، نو افغان پوهنپال باید په دې پوه شي، چې په افغانستان کې ټول تېرونه تلپاتي دي او سوله ییز ژوند ته لېوال دي، مګر دولتي ادارې نن شته، خو سبا به نه وي، نو افغاني کلتوري ټولنه په ټولو محصلینو غږ کوي، چې په خپل منځ کې اتحاد وکړي، یو او بل وروروولي ته وهڅوي او یو او بل ته درنښت وکړی او د لاسپوڅو او افغاني ضد ادارو د خوشاله کولو او یا هم د یوې او بلې ډلې د ضد افغاني موخو قرباني نه شی.
د افغانستان له وینو او قربانیو ډکو پیښنو په وروستیو څو لسیزو کې ښودلې او زباته کړې ده، چې د روس پلوو سوسیالیستانو، د بهر پلوو مجاهدینو، عرب پلوو طالبانو واکمنې غونډې د امریکا پلوو لاسپوڅه اداره به هم د افغان ولس د مقاومت په مټه به مخ توره نسکورېږي او له منځه به ځي، مګر تاسو افغانان به د یو او بل ترڅنګ تل پاتې وی او له یو او بل سره به د ملي ارزښتونو د درنښت په چاپېر کې هوسا ژوند کوی، نو بیا هم تاسو ته وړاندیز کوو، چې د نورو د تورې او تبر لاسوند نشی او د محصلینو یووالي او یو موټي کېدو ته خپلې هڅې وقف کړی، چې په خپل ملي دریځ کې برې وموموی.
په نیدرلند کې افغاني کلتوري ټولنه د کابل د ښوونې او روزنې پوهنتون د محصلینو د دغه ملي دریځ ننګه کوي او د افغانستان د لاسپوڅې ادارې دریځ د دغه پوهنتون له پوهنپالو سره یو غیر انساني، نامناسبه او له بشري ارزښتونو لرې چلند ګڼي او په جدیت یې غندي. د دغه غبرګون په مرسته د افغاني مدني ټولنو په چارواکو، افغاني رسنیو او نړیوالو رسنیو غږ کوي، چې د افغان پوهنپالو دغه مشروع غوښتنې ته لبیک ووایي او د هغوی فعالیت، احتجاج او لاریښونې ته هر اړخیز انعکاس ورکړي.

د افغان پوهنپالو د ملي دریځ د پیاوړتیا په تمه
په نیدرلند کې افغاني کلتوري ټولنه
اداري کمیسیون


افغان جرمن آنلاین په درښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادښت: دلیکنې د لیکنیزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په ځیر و لولـئ